# Orientation to Ontario

# بنبېګنې او ټولنيزې مرستې


1-855-626-0002
orientationontario.ca/en


## د کار بيمه Employment Insurance (EI)

که چېرې تاسو د داسې دلايلو له امله دنده له لاسه ورکړئ چې ستاسو په واک کې نه وي، لکه د کار کمښت، يا له کار څخه موسمي يا ډلهييز اخراج؛ نو ممکن تاسو د EI ګټو لهپاره وړ وبلل شئ، د EI څخه د ګټې اخيستنې د وړ کېدو لهپاره تاسو بايد په تېرو 52 اونيو کې په کاناډا کې د بيمې وړ ساعتونه کار کړی وي.

د EI په اړه د نورو معلوماتو لهپاره د کاناډا خدمت ته مراجعه وکړئ servicecanada.gc.ca يا findlink.at/EI-app

## د کاناډا د تقاعد پلان Canada Pension (CPP) Plan

کله چې تاسو 65 کلن ياست تاسو ممکن د CPP تقاعد د ترلاسه کولو وړ وئ. په کاناډا کې د خپل کاري ژوند په جريان کې بايد په دې پلان کې لږ تر لږه يو مشارکت ولرئ. تاسو خپل CPP د 60 او 64 کلونو ترمنځ هم اخيستلی شئ خو تاسو ته به کمې پيسې درکول کيږي. که تاسو د خپلو CPP امتيازات اخيستل وځنډوئ، ستاسو تاديات (هغه پيسې چې تاسو ته درکول کيږي) به ډېر شي.

د CPP په اړه د لا زياتو معلوماتو لهپاره servicecanada.gc.ca يا findlink.at/cpp ته د کاناډا خدمت ته مراجعه وکړئ.

## په زاړه عمر کې د خونديتوب تقاعد (OAS)

دا مياشتنی امتياز دی چې کاناډايانو ته ورکول کيږي چې 65 کلن يا له دې ډېر عمر لري. د دې امتياز د وړ کېدو لهپاره تاسو بايد له اتلس کلنی عمر پوره کېدو وروسته لس کاله په کاناډا کې ژوند کړی وي.

د OAS په اړه د لا زياتو معلوماتو لهپاره په servicecanada.gc.ca يا findlink.at/oldagesecu لينکونو کې د کاناډا خدمت ته مراجعه وکړئ.

## د کاناډا د ماشومانو امتيازات Canada (CCB) Child Benefit

CCB د فدرالي حکومت لخوا مياشتنی تاديه ده چې له والدينو او نورو ساتونکو سره د ماشومانو د لويولو په لګښت کې مرسته کوي. تاسو بايد د دې امتياز د اخيستو غوښتنه وکړئ. د امتياز اندازه د عايد له کچې سره برابره ده.

د CCB په اړه د نورو معلوماتو لهپاره د کاناډا د عوايدو ادارې ته مراجعه وکړئ canada.ca يا findlink.at/cra-bnfts

## د ماشومانو د پاملرنې نړۍوال امتيازات (UCCB) Universal Child Care Benefit

UCCB د فدرالي حکومت لخوا له شپږ کلنی څخه کم هر ماشوم لهپاره مياشتنی امتياز دی. دا امتياز کورنيو ته ورکول کيږي ترڅو د ماشوم پاملرنې د لګښت په برخه کې له دوی سره مرسته شوې وي. دا ګټه يا امتياز د ټولو کورنيو لپاره دی، نه يوازې د هغو لهپاره چې د ماشوم پاملرنې خدمتونه کاروي.

د UCCB په اړه د لا زياتو معلوماتو لهپاره servicecanada.gc.ca يا کاناډا خدمت ته مراجعه وکړئ findlink.at/UChildCB


Funded by / Financé par :

Ontario

Immigration, Refugees and Citizenship Canada

Immigration, Réfugiés et Citoyenneté Canada

## ټولنيزې مرستې

### د اونټاريو کارونه Ontario Works (OW)

د اونټاريو کار برنامه هغو خلکو ته مالي ملاتړ چمتو کوي چې لنډمهاله مالي اړتيا لري.  همدارنګه ياد پروګرام د دندې موندلو خدمتونو ملاتړ کوي.

د OW په اړه د نورو معلوماتو لپاره د ماشومانو، ټولنې او ټولنيزو خدمتونو وزارت ته مراجعه وکړئ
ontario.ca يا findlink.at/SocialAssi

### د اونټاريو معلوليت ملاتړ پروګرام (ODSP) Ontario Disability Support Program

دا پروګرام له هغو معلوليت لرونکو خلکو سره مرسته کوي چې مالي اړتيا لري. ODSP له معلوليت لرونکو خلکو سره هم د کار په پيدا کولو کې مرسته کوي چې د کار کولو توان لري.

د ODSP په اړه د نورو معلوماتو لپاره د ماشومانو، ټولنې او ټولنيزو خدمتونو وزارت ته مراجعه وکړئ
ontario.ca يا findlink.at/Ont-DSP

**ايا تاسو پوهېدئ؟**

**هغه عمر چې OAS  په کې پيليږي په تدريجي ډول بدليږي. هغه خلک به له دې بدلون څخه اغېزمن شي چې په 1958  يا له دې وروسته زيږېدلي دي؛ ځکه چې د وړ کېدو عمر به زيات شي.**

